پوهنمل حاجی محمد نوزادی ۲۰۱۳/۰۹/۰۷

# نوی تکنالوژی، مصنوعی غوښی او دوه نړیوال بحرانونه

د روان ۲۰۱۳ کال د اګسټ په ۵ نیټه د لندن په یوه فلمی سټډیو کی د نړی میډیاوالو لکه Guarian, BBC, The New Yark Times, Bild, Reuters او نورو د یوی ښودنی تماشا وکړه چې یوه هالینډی پوهاند Mark Post او دوو تنو همکارانو یی په ګډه په تازیخ کی د لومړی ځل دپاره په لابراتوار کی د جوړی شوی غوښی ځخه د پوخ کړی برګر یوه یوه ټوټه وخوړل. دا چی دا غوښه د حیواناتو له کوم فارم یا د کوم قصاب له دکانه تر لاسه شوی نده بلکه قصاب یی یو پیاوړی پوهاند او فارم یی په پرمختللی تکنالوژی سره سمبال لابراتوار دی، ځکه نو پدی اړه په میډیا کی هرچیری خبرونه خپاره شول. په ډنمارک هم کی د نورو رسنیو په لړ کی د POLITIKEN (سیاست) پنامه ډیری مشهوری ورځپانی د اګسټ په ۶ نیټه او Ingeniøren (انجینر) نومی اونیزی د اګسټ په ۱۶ نیټه په همدی اړوند لیکنی درلودی . داچی اکثرو لوستونکو ته خبره نوی او تر ډیره حده په زړه پوری ده ، غواړم د دواړو رسنیو متن په لاندی کرښو کی پښتو ژبی ته را لند کړم:

. . . په لابراتوار کی د خوړلو وړ ددغی وړی ټوټی غوښی تر لاسه کول، دا په حقیقت کی د دوو نړیوالو (ګلوبال) بحرانونو د حل په لار کی یوستر مرسته کوونکی ګام دی. یو یی د اقلیم بحران دی چی بشر ته یی لوی تشویش پیدا کړی او بل یی ورځ تر بلی د خوراکی توکو د کمښت بحران دی چی نړیوال یی باید د حل لاره ومومی. **دا ځکه:** د ملګرو ملتونو د خوراکی توکو او کرهنی اداری ( F ) د ځیړنو له مخی د خوراکی توکو په لړ کی دا مهال یوازی د غوښو دودیز تولید ددی لامل ګرځی چی هواته د خارجیدونکی ټول کاربن ډای اوکساید په سلو کی د ۱۸٪ برخی مسئولیت پرغاړه واخلی. دا مقدار کاربن ترهغه زیات دی چی په نړیواله کچه د ترانسپورټی صنایعو دلاری هواته خوشی کیږی. د بیلګی په توګه که یو د منځنی کچی موټر ۲۹۰۰ کیلومتره وګرځی، دومره کاربن هواته ورکوی لکه په فارم کی د یوه عادی امریکای سری دپاره د یوه کال د اړتیا وړ غوښو د تولید ځخه چې هواته ورکول کیږی. که دغه غوښه په لابراتوار کی جوړه شی، ښکاره خبره ده چی اړونده پروسه به یی په ډیر کمه اندازه کاربن هواته ورکړی او ددی لاری به د اقلیم د بحران دحل سره لویه مرسته وشی.

ددی کار مرسته همدارنګه د خوراکی توکو د کمښت په بحران کی د پام وړ ده. د م. م. د وړاندوینی له مخی به په نړی کی د وګړو شمیر تر ۲۰۵۰ کال پوری نه میلیارډ تنو ته جګ شی چی دا ټول و خوراکی توکو ته اړتیا لری. همدا راز ددغو وګړو ډیره برخه به په اسیا، جنوبی امریکا او افریکا کی و منځنی طبقی (کلاس) ته راواړی یانی ژوند به یی ښه والی ومومی او دخوراکی شیانو د رانیولو توان به یی زیات شی. د م. م. د محاسبی سره سم به په راتلونکو ۴۰ کالو کی د خلکو تقاضا د اوس په پرتله تر ۴۰٪ جګه ولاړه شی. که د خوراکی توکو تولید په ننني دودیز ډول مخته ولاړشی، دلوړی تقاضا پوره کول به ډیر مشکل کار وی.

پدی اړوند دهالینډ د ماستریخت پوهنتون نوموړی پوهاند Mark Post وایی: « ښایی ډیر لږ خلک به پدی باندی خبر وی چې د غوښو د تولید کچه همدا اوس خپل اعظمی حد ته رسیدلی او په لوړه کچه یی د لا زیاتولو امکان کم دی، ځکه نو باید فکر وکړو او یوه بله لاره ولټوو ».

**د غوښو د اوسنی دودیز تولید په تړاو لاندی ارقام هم د پام وړ دی:**

الف ـ د ځمکی په وچه کی دهغی برخی ځخه چی د یخنۍ نه خلاصه ده، ٪۲۶ کی یی د حیواناتو د پاره ورشوګانو (علفچرونو) او وښو د لاسته راوړلو په موخه کارول کیږی.

ب ـ د نړی د کرهنی وړ ټولی ځمکی نژدی دریمه برخه د خوراکی موادو د تولید د پاره کاریږی.


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځیر و لولئ

ج ـ په ټولیز ډول د ځمکې دمخ د کرهنې وړ خاوری ۷۰٪ او د ځمکې د ټولې سطحې ۳۰٪ برخه د حیواناتو د پاره کارول کیږي.

د ـ دغه حیوانات د ټول کاربن ډای اوکساید ۱۸٪ برخه هواته خوشی کوی او چاپیریال ککړ کوی.

ه ـ همدغه د غوښو د دوديز توليد صنایع په نړۍ کې د استعمال وړ ټولو اوبو ۸٪ کې کاروی.

و ـ حیوانی فارمونه په لوی احتمال سره په نړۍ کې د اوبو د ککړتیا ترټولو لوی لامل ګڼل شویدی.

د همدغو دوو موضوعګانو (بحرانونو) د اهمیت له مخې وه چې د ګوګل د ستر پروګرام یوه برخه وال Serggey Brin د نوموړی ورځې د لګښتونو یانې ۱،۸ میلیون ډنمارکی کرونو ( یو ډالر نژدی ۶ کرونه دی. ژباړ ) لویه برخه پرغاړه د مرسته کوونکې په توګه واخیسته. پدی توګه ویلای شو چې دغه یوه ټوټه برګر د ۸،۱ میلیون کرونو په قیمت وخوړل شو.

**اوس به راشو پخپله مصنوعي غوښې ته:**

په امریکا او اروپا کې هراړخیز کار ته اړتیا ده چې ددی ډول مصنوعی غوښو د تولید په هکله پریکړه وشی او پدی اړوند یو ټاکلی سیټم جوړ او په کار واچول شی. په لویه پیمانه به د نوموړی غوښې د تولید د پاره د ځانګړی تائیدونکی سیستم منځته راوستل ۴۰ کاله وخت ونیسی. اټکل کیږی چې د ۲۰۴۰ کال پوری به د نړۍ د ټولو عرضه شوو غوښو نیمه برخه په لابراتوارونو (فابریکو) کې تولید شی او دا به د دودیز تولید تر څنګ د اصلی غوښو د کمښت په پوره کولو کې لوی ګام وی.

دا غوښې په لابراتوار کې د حیواناتو د عضلوی حجرو د کرلو او تکثر دلاری تر لاسه کیږی. دلته یو پرابلم شتون لری چې د حل په اړه یې فکر کیږی او کار روان دی. **ددی کار میکانیزم داسی دی:** د حیواناتو د عضلو څخه اړینې حجری جدا کیږی، په ښه توګه پاکیږی او په یوه ځانګړی ظرف کې دتخمر په موخه ځای پر ځای کیږی. برسیره لدی، ددی حجرو د تکثر دپاره اړوند مواد لکه ویټامینونه، امینی تیزابونه، هرمونونه، بوره او مالګه ور اچول کیږی. د ظرف په کښتنی برخه کې حجری په یو ډول دری بعدی سیستم کې وده کوی او عضلی ورڅخه جوړیږی. پدی ترڅ کې چې حجری وده کوی او عضلی جوړوی، ددی دپاره چې عضلی پخپلو کې سره ونښلی باید برقی جریان ورکړل شی. پدی کار سره په غوښو کې پروتین هم منځته راځی.

ددی د پاره چې پروسه په لوړه کچه کار وکړی، لومړنی بنسټیزی حجری ماتیږی او تکثر کوی. پدی توګه پروسه په بی پایه ډول دوام مومی او یو په بل پسی غوښه منځته راځی. که داسی نه وی نو دغوښو کتلوی تولید چې د تقاضا چاره وربادندی وشی، نه تر سره کیږی. له بده مرغه چې دا کار په لوړ ډول مخته نه ځی او څیرونکی لا تر اوسه پدی نه پوهیږی چې علت یی څه دی. دا هغه پروبلم دی چې باید دحل لاره یی وموندل شی.

ډنمارکی څیرونکی Niels Oksbjerg پدی هکله داسی وایی: « دا مهال چې موږ د لومړنیو بنسټیزو حجرو پر یوه بی پایه تکثر او ودی باندی څیرنی کوو، ور سره سم پر دی باندی هم فکر کوو چې د یوه بل ډول حجرو د کارولو امکان ترلاسه کړو. پدی ډول به وکړای شو د پروبلم د حل د پاره یوه لاره پیداکړو.

پداسی حال کې چې ټول ډنمارکی څیرونکی د مصنوعی غوښو د ښه راتلونکی په هکله په یوه خوله هیله من دی، خو په نوره نړۍ کې خبره داسی نده، بیلابیل څیرونکی بیلابیل نظرونه لری. د انګلستان د اکسفورډ پوهنتون د یوه ګروپ څیرونکو د تحلیل له مخې د مصنوعی غوښو کښت به چاپیریال ته د اوس په پرتله د خارجیدونکی ګاز کچه ۹۶٪ لږ کړی او د انرژی مصرف به یی تر دودیزی غوښې د ۷٪ څخه تر ۴۵٪ پوری کم وی.

پای



افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ